# مجـــله علـــمی پـــوهنتون ســـــلام

https://salam.edu.af/magazine/14


# په تفسیر کې (دخیل) یا د قرآن کریم ناسم او ګډوډ تفسیرونه معنی او مفهوم، شالید، لاملونه، ډګرونه او ناوړه پایلې یې


**دوکتور فصیح الله عبدالباقی**[1]

1- عضوء کادر علمی پوهنځی شرعیات پو هنتون سلام

: +93788654387

: mailto:Fasih.1392@gmail.com



## د لیکنې لنډیز

له یو اړخه د ځینو مسلمانانو د قرآن کریم د روح سره نابلدتیا او په پوهه او فهم کې کمې او له بل پلوه د اسلام د دښمنانو د اسلام سره دی دښمنی ؛ کینې او دسیسو په سبب زموږ په تفسیري تراث کې هغه څه ورګډ او ځای پر ځای شول چې د قرآن کریم د تفسیر سره نه بلکې د قرآن کریم د روح او تعلیماتو سره یې بشپړ مغایرت او توپیر درلود؛ او د هغه د لاربښوونو سره په بشپړ ډول په ټکر کې وو، او تر دی دمه زموږ په تفسیري کتابونو کې شتون لري؛ بلکی ویلی شو چې متاسفانه دا ناوړه او کرغیړن خوځښت په بیلابیلو بڼو نن هم شتون لري او په خورا چټکتیا او ځیرکتیا سره د خپلو شومو موخو د لاس ته راوړلو لپاره؛ د خپلو ټولو وسائلو په کارولو سره فعالیت لري.

په دی لیکنه کې هڅه شوی چې د دغه پدیدې - چې په اصطلاح کې د «دخیل» یا د قرآن کریم ناسم تفسیر په نوم یادیږي – په اړوند اړین موضوعات د بحث او څیړنې لاندی نیول شوی دي ؛ تر څو هر مسلمان په تفسیر کې د «دخیل» څخه خبرشي او د هغه د ناوړه اغیزوڅخه خونديې پاته شي ؛ د قرآن د درست، سم او حقیقي تفسیر حفاظت اوساتنه وشي؛ او د قرآن کریم پر ضد د دین د دښمنانو ناوړه او کرکجنې دسیسې برملا او څرګندی شي ؛ او په ټوله کې اسلامی امت او ټول انسانیت د قرآن کریم د سمو او سوچه لاربښوونو څخه برخمن شي او هغه آخرنې آرمان ته – چې د مځکې پر سر د سوچه قرآني نظام اقامه ده- ورسیږي. دی موخو ته د رسیدلو په منظور دا څیړنه په لاندی مطالبو ویشل شوی ده:

د (دخیل) یا ناسم تفسیر معنی او مفهوم

په تفسیري ډګر کې د (دخیل) یا ناسم تفسیر پیل

د (دخیل) یا ناسم تفسیر ناوړه پایلې

د (دخیل) یا ناسم تفسیر ډولونه یا ډګرونه.

أ-:اسرائیلیات

ب:بې لارې ډلې او فرقې

ج:د قرآن کریم علمي او سائنسي تفسیر

د:د معاصرو سیکولرانو او بې دینانو تفسیر



**معلومات مقاله**

**تاریخ نشر: 1401/05/23**

**شماره مقاله در ژورنال: 06**

**تعداد صفحات: 12**

**شماره نوبتی مجله: 11**

**کلید واژه ها**

**دخیل، ناسم تفسیر ، اسرائیلیات، سائنسي تفسیر ، سیکولارانو تفسیر**

**معلومات مجله:**

مجله علمی پوهنتون سلام، نشرات خویش را از سال 1390 هـ.ش آغاز نموده و دست آورد های زیادی در این زمینه دارد، در ادامه سلسله فعالیت های خویش به تاریخ 1401/03/22 اعتبار نامه خویش را به عنوان یکی از معتبرترین مجله از وزارت محترم تحصیلات عالی کشور به دست آورد،

آدرس: افغانستان، کابل، ناحیه چهارم، کلوله پشته، چهار راهی قلعه بست (گل سرخ)، پوهنتون سلام.

**آدرس ارتباطی؛ ویب‌سایت:** https://salam.edu.af/magazine ، **ایمیل:** salamuk@salam.edu.af ، **شماره های تماس:** +93202230664 و +93788275275


## مقدمه

الحمد لله رب العالمین، وصلی الله علی سید الهُداة والدُعاة والمصلحین، سیدنا محمد وآله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلی یوم الدین.

دا څیړنه یوه خورا مهمه او خطیره موضوع درنو لوستونکیو سره شریکوي؛ چې هغه د قرآن کریم او د هغه د تفسیر پر ضد د قرآن د دښمنانو له لوری د خطرناکه فکری جګړې څخه عبارت ده ؛ پرته له شکه قرآن کریم د الله تعالی له لوري د ټول انسانیت لپاره د آخرنې دستور العمل او د ژوند لاربښود حیثیت لري؛ په همدی اساس د دی پاک کتاب پر معانیو او مفاهیمو ځان پوهول یوه بنسټیزه موضوع ده ؛ له دی کبله د بیان او تفسیر دغه دنده او وظیفه تر ټولو د مخه د الله تعالی د آخرینی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم – چې د ګردو انسانانو لپاره رهبر او رهنما دی - پر غاړه وه او هغه صلی الله علیه وسلم د دی پاک کتاب لومړنې شارح او مفسر و لکه چې الله تعالی

په دی اړه فرمايي( **وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ1**) ژباړه: موږ دغه ذکر پر تا نازل کړيدی تر څو چې ته خلکو ته هغه څه تشريح او توضيح کړې چې د هغو لپاره نازل کړای شوېدی، او بايد خلك هم ( په څپله په دی کې) غوراو فکر وکړي.

بايد په دی وپوهيږو چې د قرآن کريم د بيان او تفسير دغه وړتيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته الله تعالى پخپله ور بخښلی وه لکه چې په دی هکله فرمايي{**إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ * ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ**} [2] دا(قرآن) درباندې زده کول او درباندې لوستل زموږ په ذمه دی - نو کله چې موږ دا لولو په هغه وخت کښې ته د دې قرائت په غورسره اوره - بيا د ده په مطلب باندې پوهول او بيان هم همدا زموږ په ذمه دي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله دغه دنده په خپل مبارک ژوند کې سرته ورسوله او ددې حق يې ادا کړ؛ د قرآن کريم د تفسير او بيان لسګونه مثالونه د تفسير او د احاديثو په کتابونو کې د دی ادعا واضح او څرګند دليلونه دي ؛ د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم څخه وروسته صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين د ضرورت پر مهال د پيغمبري تربيت او روزنې په رڼا کې د قرآن کريم د غامضو او مشکلو آيتونو د تفسير او توضيح چاره سر ته رسوله چې موږ د هغوی بی شميره تفسيري اقوال د تفسير په کتابونو کې موندلای شو.

د صحابه کرامو له ډلې څخه عبد الله بن عباس، عبدالله ابن مسعود، علي بن أبي طالب، أبي بن كعب، زيد بن ثابت، عبد الله بن عمر، او عبدالله ابن عمرو رضوان الله عليهم اجمعين په دی ډګر کې خورا ډير شهرت لري ؛ له دی جملې څخه عبدالله ابن عباس رضى الله عنهما؛ أبي بن كعب رضى الله عنه ؛ اوعبدالله ابن مسعود رضى الله عنه د تفسير ځانګړې حلقى او مدرسى درلودلی چې په هغو کې يې د بيلابيلو سيمو څخه راغلي شاګردان روزل.

دصحابه کرامو رضوان الله عليهم څخه وروسته تابعينو رحمهم الله يعنى د صحابه کرامو شاګردانو په خپل وار د امت د لارښوونی لپاره ملا وتړله او په دی ډول امت د قرآن کريم د انوارو او لارښوونو په رڼا کې د بري لاری پری کولی او د عروج منزلونه يې لنډول ؛ تابعينو د څلورګونو مصادرو (خپله دقرآن کريم د آيتونو؛ د رسول الله صلى الله عليه د فرمودانو؛ د صحابه کرامو د تفسيري اقوالو او د خپل درايت او اجتهاد) بر بنسټ قرآن کريم تفسيراوه.

تر دی چې داسی يو زمانه راغله چې له يوه اړخه د ځينو مسلمانانو د قرآن کريم د روح سره نابلدتيا او په پوهه او فهم کې کمې او له بل پلوه د اسلام د دښمنانو دښمني ؛ کينه او دسيسې چې خپلی آخري پولی ته رسيدلی وی د دی لامل شو چې زموږ په تفسيري ثراث کې هغه څه ورګډ او ځای پر ځای شول چې د قرآن کريم د تفسير سره نه بلکی د قرآن کريم د روح او تعليماتو سره بشپړ مغايرت او توپير درلود؛ او د هغه د لارښوونو سره په ټکر کې و. او تر ننه زموږ په تفسيري کتابونو کې شتون لري؛ بلکی بايد وواېو چې متاسفانه دا ناوړه او کرغيړن خوځښت په بيلابيلو بڼو نن هم شتون لري او په خورا چټکتيا او ځيرکتيا سره د خپلو شومو موخو د لاس ته راوړلو لپاره؛ د خپلو ټولو وسائلو په کارولو سره فعاليت لري.

په دی ليکنه کې هڅه شوی چې د دغه پديدې - چې په اصطلاح کې د «دخيل» يا د قرآن کريم ناسم تفسير په نوم يادېږي – په اړوند اړين موضوعات د بحث او څيړنې لاندی ونيول شي؛ تر څو ټولنه او ځړي په تفسير کې د «دخيل» څخه خبرشي او د هغه د ناوړه اغيزوڅخه خوندي پاته شي ؛ د قرآن د درست، سم او حقيقي تفسير حفاظت اوساتنه وشي؛ او د قرآن کريم پر ضد د دين د دښمنانو ناوړه او کرکجنې دسيسې برملا او څرګندی شي ؛ او په ټوله کې اسلامی امت او ټول انسانيت د قرآن کريم د سمو او سوچه لارښوونو څخه برخمن شي او هغه آخرني آرمان ته – چې د ځمکې پر سر د سوچه قرآني نظام اقامه ده- ورسيږي. دا څيړنه په لاندی مطالب په بر کې نيسي:

- د (دخيل) يا ناسم تفسير معنى او مفهوم
- په تفسيري ډګر کې د (دخيل) يا ناسم تفسير پيل
- د (دخيل) يا ناسم تفسير ناوړه پايلې
- د (دخيل) يا ناسم تفسير ډولونه يا ډګرونه.

### الف:اسرائليات

### با:بی لارې ډلی او فرقی

### ج:د قرآن کريم علمي او سائنسي تفسير

### د:د معاصرو سيکولارانو او بی دينانو تفسير

**د (دخيل) يا ناسم تفسير او اصيل يا سم او درست تفسيرمعنى او مفهوم**

په دی خاطر چې موضوع په سمه توګه درک کړو بايد په پيل کې د «دخيل» يا ناسم تفسير او «اصيل» يعنی سم او درست تفسير معنی او مفهوم وپيژنو.

**«دخيل» يا ناسم تفسير:**

**الف: «دخيل»د لغت په اعتبار:**

د لغت د قواميسو د پلټنې په پايله دی نتيجې ته رسيږو چې په لغوي اعتبار د «دخيل» کلمه په کمی؛عيب؛ نقص او داخلي ورانی، ګډودی او فساد دلالت کوي هو البته کله دا عيب کمی؛عيب، ګډودی او فساد د فريب او دوکې؛ او کله هم د نابلدتيا او نا آشنائي او کله د شک او تردد په پايله کې منځ ته راځي.

زَبيدي په خپل کتاب « تاج العروس من جواهر القاموس » کې وايي: (الدَّخَلُ: الغَدْرُ والمَكْرُ والداءُ والخَديعَةُ يقال: هذا أمرٌ فيه دَخَلٌ ودَغَلٌ. وقوله تعالى: "ولاَ تتخِذُوا أيمَانَكُم دَخَلاً بينَكُم" أي مَكراً وخَديعةً ودَغَلاً وغِشّاً وخِيانةً. الدَّخَلُ: العَيبُ الداخِلُ في الحَسَبِ) دخل د دوکې،چل ول، مرض او فريب په معنى استعماليږي لکه چې الله

1. (النحل: ۴۴).
2. (القيامة: ۱۷ - ۱۹).

تعالی فرمایي: "ولاَ تتخِذُوا أيمَانَكُم دَخَلاً بينَكُم" خپل سوګندونه په خپلو منځونو کې د دوکې او چل ول او خیانت وسیله مه ګرځوی.امام زبیدی زیاتوي چې: په نسب کې کمي او عیب ته هم (الدخل) ویل کیږي.[1]

مجد الدین فیروز آبادي په خپل کتاب القاموس المحیط کې وایي : (الدخیل کل کلمة أُدخلت في کلام العرب ولیست منه)[2] یعنی دخیل هر هغه لفظ او کلمې ته ویل کیږي چې له عربي ژبې څخه نه وي او په کې ورداخله کړای شوی وي.

محمد بن منظور، په لسان العرب کې داسی لیکي: (فلان دخیل في بني فلان، إذا كان من غیرهم )[3].فلانکې په فلانکي ټبر کې دخیل دی ؛ هغه وخت ویل کیږي چې (یو سړی د هغوی له جملې څخه نه وي) بلکې د غیرو څخه وي.

راغب اصفهاني وایي: (الدخل وهو كناية عن الفساد والعداوة المستبطنة...) یعني دخل د فساد ورانګاری او پټې دښمنۍ څخه کنایه ده.[4]

**با: «دخیل»د اصطلاح په اعتبار:**

ښاغلي دکتور عبد الوهاب فاید «دخیل» داسی تعریفوي: (هو التفسیر الذي لا أصل له في الدین علي معني أنه تسلل إلي رحاب القرآن الکریم علي حین غرة وعلي غفلة من الزمن بفعل مؤثرات معینة حدثت بعد وفاة الرسول صلي الله علیه وسلم) یعني دخیل هغه تفسیر دی چې په دین کې اصل ونلري، په دی معنی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات څخه وروسته د مسلمانانو د غفلت؛کمزوۍ او بی تفاوتۍ څخه په ګټه اخستنې د بیلابیلو لاملونو په پایله کې د تفسیر میدان ته په ځانګړیو پلمو او چل ول را وارد کړای شوی وي.[5]

دکتور ابراهیم عبد الر حمن خلیفه په خپل کتاب «الدخیل في التفسیر» کې «دخیل» داسی تعریفوي: (هو ما نقل من التفسیر ولم یثبت نقله أو ثبت ولکن علی خلاف شرط القبول أوما کان من قبیل الرأي الفاسد)[6].

د تفسیر په کتابونو کې «دخیل» هغه شیان دي چې رانقل شوی وي لیکن نقل یې ثابت نه وي، یا نقلا د ثبوت درجې ته رسیدلی وي خو د تفسیر د قبلیدو د شرطونو پر خلاف وي او یا هم ناسم عقلي تفسیر وي.

ویلای شو چې: په تفسیر کې«دخیل» د قرآن کریم د آیتونو هغه تفسیر دی چې د تفسیر د اصولو او قواعدو څخه پکې سرغړونه شوی وي او یا هم د تفسیر شروطونه پکې له پامه غورځول شوی وي.

د دی په مقابل کې د قرآن کریم د آیتونو درست او سم تفسیر یا «اصیل» تفسیر هغه تفسیر دی چې یا خو پخپله د قرآن کریم د نورو آیتونو څخه ثابت شوی وي، یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح احادیثو کې رانقل شوی وي؛ یا د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین یا تابعینو رحمهم الله څخه ثابت شوی وي او یا هم د قرآن کریم د آیتونو هغه اجتهادي تفسیر(تفسیربالرآی) چې اړین شروطونه یې بشپړ کړي وي.

- **د(دخیل) یا ناسم تفسیر د پیل څرنګوالی**

مخکې مو اشاره وکړه چې د قرآن کریم د ټولو لومړي مفسر او شارح پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم و، په پیغمبرانه دندو کې یې یوه مهمه دنده هم د قرآن کریم تشریح او تفسیر وه لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي( **وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ**[7])ژباړه: موږ دغه ذکر پر تا نازل کړیدی چې ته خلکو ته هغه څه تشریح او توضیح کړې چې د هغو لپاره نازل کړای شوېدی، او چې خلك ( په خپله هم ) غورا و فکر وکړي.

په همدی اساس رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر قرآني آیتونه تفسیر او تشریح کړي او د هغی مدلول او مفهوم یې صحابه کرامو رضوان الله علیهم ته روښانه کړې دی لکه د بیلګې په توګه:

په صحیحینو کې د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه روایت دي چې وایي:لما نزلت هذه الآية: {**الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ**...}[8] شق ذلك على الناس، فقالوا: يا رسول الله وأينا لا يظلم نفسه؟ قال: "إنه ليس الذي تعنون، ألم تسمعوا ما قال العبد الصالح: {إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ}[9] ، إنما هو الشرك"[10].

کله چې د آیت{الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ...}[11] را نازل شو په صحابه کرامو ډیر سخته او درنده تمامه شوه؛ وی ویل: ای د الله تعالی پیغمبره زموږ په منځ څوک داسی شته چې پر ځان یې ظلم نه وی کړی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ: د دی آیت معنی هغه نده چې تاسی فکر کوی؛ آیا تاسی د هغه نیک سړي (لقمان حکیم صاحب) خبره نده اوریدلی چې فرمایي: {إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ}[12] ، دلته د ظلم څخه مراد شرک دی.

یا د صحیح بخاري [13]هغه حدیث چې وایي:أن رسول الله صلى الله عليه وسلم فسر مفاتح الغيب في قوله تعالى: {**وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ**}**14** فقال: "مفاتح الغيب خمس: {**إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ**}**15** ".

---

**1**. تاج العروس من جواهر القاموس: محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، لیکنه ج ۱ ص ۷۰۵۷أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي.چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي ببيروت د چاپ کال: ۱۹۸٤

**2**. مجد الدين الفيروز آبادي ، القاموس المحيط 3 /374 ، فصل الدال ، باب اللام

**3**. محمد بن منظور ، لسان العرب ، مادة : دخ ل .

**4**. المفردات في غريب القرآن – د امام راغب الأصفهاني لیکنه, ص ١٦٦ , طبعة ١٣٨١ هـ , ١٩٦١ م , چاپ ځای: مصطفى البابي الحلبي مصر - تحقيق - محمد سعيد كيلاني.

**5**. الدخیل في تفسیر القرآن الکریم د. عبد الوهاب فاید لیکنه ص ١٣،١٤,لومړي چاپ 1398 هـ , 1978 م چاپ ځای: مطبعة حسان

**6**. الدخیل في التفسیر د. ابراهیم عبد الر حمن خلیفه ج ۱ ص ٤٠, چاپ ځای: دار الکتاب بمصر – ۱۹۸۴م

**7**. (النحل: ۴۴).

**8**. [الأنعام: 82]

**9**. [لقمان: 13]

**10**. صحيح البخاري، كتاب التفسير: 6/ 20، صحيح مسلم، كتاب الإيمان: 1/ 80.

**11**. [الأنعام: 82]

**12**. [لقمان: 13]

**13**صحيح البخاري، كتاب التفسير: 5/ 193

**14**. [الأنعام: 59]

**15**. [لقمان: 34]

يعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د سورت انعام د ۵۹ آیت(وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ) په اړه فرمايي چې د غيبو کونجيګانې پنځه دي؛ کومې چې الله تعالی په دی آیت کې ذکر کړی دي(إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ).

د سورت آل عمران د دی آیت {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ}[1] د تفسیر په اړه ام المؤمنین عائشة -رضي الله عنها- فرمايي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- يو ځل دا آيت تلاوت کړ او بيا يې وفرمائيل: کله چې تاسی هغه کسان وليدل چې د قرآن کريم متشابهاتو پسې ګرځي (او محکمات پرېږدي، پوه شئ چې) دا هماغه خلک دي چې الله تعالی په دی آيت کې ذکر کړي دي؛ نو ځان تری وساتئ.[2]

عن عقبة بن عامر -رضي الله عنه- قال: سمعت رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وهو على المنبر- يقول: (ألا إن القوة الرمي، ألا إن القوة الرمي، ألا إن القوة الرمي)[3].

د عقبة بن عامر -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې فرمايي:ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه - په داسی حال کې چې د منبر په سر يې تشريف درلود - واوريدل: چې د دی آیت په اړه يې وفرمائيل{وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ}، خبراوسئ چې د (قوة) معنی ويشتل دي، خبراوسئ چې د (قوة) معنی ويشتل دي.

دا او دی ته ورته بی شميره آيتونه پخپله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تفسير کړي دي،او دغه نبوي تفسيرونه محدثينو په خپلو کتابونو کې د (کتاب التفسير يا باب التفسير) تر عنوان لاندې ځای پر ځای کړي دي.[4]

❖ همدا راز صحابه کرامو په هغه مواردو کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لورې يې تفسير نه دی موندلی د خپل اجتهاد پر اساس يې د قرآن تفسير کړی.

لدی امله چې صحابه کرام رضوان الله عليهم نيغ په نيغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم شاګردان و،او د قرآن کريم د نزول په زمانه کې شتون درلود، د نزول لاملونه يې تر مخه و او الله تعالی د لوړ استعداد څخه برخمن کړي و په خورا مسوولانه او دقيق ډول يې د قرآن کريم تفسير او تشريح کوله البته د صحابه کرامو د دور په اخيري پړاو کې( د حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت معاوية رضی الله عنه په زمانه کې) او په ځانګړی توګه د تحکيم د قضيې څخه وروسته په ۴۱ هجري کال په امت کې دوه بی لارې فرقې (خوارج او شيعه) را څرګندې شوی، چې هر يوی يې هڅه کوله چې – د خلکو د اعتماد او باور تر لاسه کولو په، او د خپلو باطلو افکارو د ترويج په خاطر- خپل فکري او اعتقادي بنسټونه د قرآن کريم څخه ثابت کړي په دی اساس دوی د قرآن کريم تفسير ته مخه کړه او د خپلو نفسي- خواهشاتو، ځانګري نظرياتو او آراو پر بنسټ يې د قرآن تفسير پيل کړ، او ورو ورو د قرآن کريم د تفسير ډګر ته [دخيل] او ناسم تفسير لاره پيدا کړه، د دوی د(دخيل) او ناسم او ګډوډ تفسير بيلګې به د څيرنې په اوږدو کې راشي.

❖ همداراز د صحابه کرامو نيغ په نيغه شاګردانو (تابعينو) هم په خپل وار صحابه کرامو د شاګردی په برکت او د خپل خدای ورکړي استعداد او اجتهاد له مخې د اړتيا پر مهال د قرآن کريم تفسير کړی او بی شميره تفسيري اقوال يې د تفسير په کتابونو کې شتون لري لکه د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما شاګردان: مجاهدبن جبر، عطاء بن أبي رباح، عكرمة مولي بن عباس، سعيد بن حبير، طاووس بن كيسان او داسی نور. ...د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه شاګردان لکه: زيد بن أسلم، أبو العالية او محمد بن كعب القرظي او داسی نور... او د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه شاګردان لکه: مسروق بن الأجدع، قتادة بن دعامة، أبو سعيد الحسن البصري، اوعطاء بن مسلمه الخرسانی......

په دی پړاو کې تابعينو رحمهم الله د صحابه کرامو ـ رضوان الله عليهم ـ تفسيري روايتونه او اقوال اغلبا د سند په ذکر کولو سره روايت کول له دی امله يې د صحت او سقم اندازه شونی وه، او دا هماغه تاريخي پړاو و چې موضوعي او ساختګی روايتونو ډير رواج موندلی و ځکه خو هغوی د سند په ذکر کولو خورا اهتمام او تاکيد کاوه امام ابن سيرين وايي: ( لم يكونوا يسألون عن الإسناد فلما وقعت الفتنة قالوا : سموا لنا رجالاً )[5] له دی تر مخه به چا د روايت او سند ډيره پوښتنه نه کوله خو کله چې فتنه(غالبا د وضع الحديث فتنه) واقع شوه بيا به علماو د ذکر شويو اقوالو په اړوند ويل: سړي مو راته معرفی کړئ يعنی سند مو وواياست.

❖ د تابعينو وروسته د هغوی د شاګردانو(اتباع تابعينو) په زمانه کی که څه هم ډيری تفاسير وليکل شول، البته د ګمراه ډلوټپلو له لورې د خپلو بدعتونو او ګمراهيو او د خپلو باطلو معتقداتو او افکارو د ترويج په موخه ډيری درواغ او موضوعي احاديث جوړ کړای شول په ځانګړي ډول د قرآن کريم د تفسيرپه اړوند خورا ډير اقوال په درواغو رسول الله ـ صلی الله عليه وسلم ـ او صحابه کرامو ته منسوب کړای شول، چې له هماغه ځايه ډيری تفسيري روايتونه په مدونو تفسيري کتابونو کې ځای پر ځای شول، او په دی ترتيب (دخيل) او ناسم او ګډوډ تفسيرونو د تفسير ساحی ته لاره پيدا کړه.

له تبع تابعينو له زماني څخه وروسته کله چې د عباسيانو په دور کې د اسلامي فتوحاتو لړی پراخه شوه او بيلابيل طيفونه خلک او ډلې په بيلا بيلو نومونو، د بيلا بيلو افکارو، موخو او تصوراتو سره د ستر اسلامي واک ساحي ته د ډيری ستونزو سره ور ننوتلي دوی د نورو ستونزو تر څنګ د (دخيل) ستونزه هم له ځانه سره لرله. د دی برسيره په تفسيري ډګر(دخيل) نور لاملونه هم لري چې په لاندی کربنو کې ورباندې ځغلنده نظر اچوو.

- **د(دخيل) يا ناسم تفسير د پيدايښت لاملونه**

(دخيل) يا ناسم تفسير تاريخ ته په کتو ويلای شو چې (دخيل) د تفسير ساحی ته د ډيرو اسبابو او عواملو له مخې لاره پيدا کړی چې عمده لاملونه يې په لاندی توګه دي:

---

1. [آل عمران: 7]
2. صحيح بخاري (4547) په كتاب تفسير: باب (منه آيات محكمات)كې، او صحيح مسلم (2665) په كتاب العلم: باب النهي عن اتباع متشابه القرآن، او سنن أبی داود (4589) په كتاب السنة: باب النهي عن الجدال واتباع المتشابه من القرآن كې ذكر كړی.
3. صحيح مسلم (1917) په كتاب الإمارة: باب فضل الرمي والحث عليه, او سنن امام أبو داود (2514) په كتاب الجهاد: باب في الرمي، سنن امام الترمذي (3083) په كتاب تفسير القرآن: باب ومن سورة الأنفال كې دا حديث نقل كړی دی.
4. لکه د بيلګې په توګه ووينئ:کتاب التفسير؛ صحيح مسلم۲۳۱۲/۴ ؛أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؛ سنن الترمذی ۴۹/۵
5. شرح علل الترمذي د شيخ زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بغدادي، حنبلي (المتوفى: 795هـ)ليکنه ص ۳۵۴محقق: الدكتور همام عبد الرحيم سعيد د چاپ ځای: مكتبة المنار - الزرقاء – الأردن . لومړي چاپ، 1407هـ - 1987م

**الف: داخلي لاملونه:**

- تفسيري اقوال او روايتونه پرته له سند څخه نقل کول: کله چې پرته له سنده تفسيري اقوال منل او قبلول پيل شول مغرضو خلکو ته چانس په لاس ورغې چې د خپل ذوق او سليقې سره سم او د خپل نظر او مذهب د ترويج لپاره له ځانه تفسيري روايتونه وتراشي او جوړ يې کړي.
- د قرآن کريم په تفسير کې په اسرائيلي روايتونو تکيه کول: هغه اسرائيلي روايتونه چې د اسلامي شريعت سره(يا د معتقداتو او يا هم د احکامو په ساحه کې) په ټکر او تضاد کې واقع دي، د قرآن د تفسير د يو اصل په توګه منل او قبلول د (دخيل) د ورود لپاره ډيره ستره دروازه وه او اوس هم بلل کيږي.
- د ځينو آلي علومو لکه(صرف، نحو، بلاغت، فقه، منطق، تصوف....) منځ ته راتلل:

په ټوله کې دا او دې ته ورته علوم که څه هم د قرآن د پوهې لپاره اړين دي، ليکن په يواځې توګه -پرته د نورو منل شويو تفسيري مصادرو- د دې علومو پر بنسټ قرآن تفسيرکول د (دخيل) لپاره زمينه برابره کړې.

- د قرآن په تفسير کې په مطلق ډول يواځې پرعقل بسنه او تکيه کول: که يو مفسر د تفسير ټول مصدرونه له پامه وغورځوي او د قرآن په تفسير کې يواځې او يواځې په خپل عقل او پوهه تکيه وکړي دا به هرو مرو د کړلچونو سره مخامخ کيږي او د قرآن په تفسير کې به هغه څه وايي چې د قرآن کريم سره اړخ نه لګوي.او په دې ډول به ډيرى ناسم تفسيرونه او (دخيل) د تفسير ساحې ته لاره پيدا کوي.

**با: بيروني لاملونه**

د اسلام کينه ګرکي دښمنان لکه: يهوديان، نصرانيان او مشرکان سياسي او مذهبي اختلافات د تفسير کولو ورتيا نه شتون.

- **د (دخيل) يا ناسم تفسير ناوړه پايلې**

که قرآن کريم د تفسير د اصولو او قواعدو سره سم تفسير نکړای شي بلکې د هوا او هوس او خپل شخصي ذوق او ليد لوری تابع وګرځول شي؛ يا هم پر بې اساسه اسرائيلي قصو او داستانونو د قرآن کريم اصلي تعليمات وپوښل شي او يا هم د بې قيضې عقلانيت پر بنسټ قرآن تفسير کړای.... دا په فرد؛ټولنه اوپه ټوله کې پر ټول اسلامي امت ډيرى بدی اغيزې لري چې ځينوته يې دلته اشاره کوو:

1 - لدې چې قرآن کريم د مسلمانانو تر ټولو لومړې او ستر فکري او عقيدوي مصدر دی که چيرې د دې مصدر ناسم او نادرسته تفسير په خلکو کې رواج ومومي او خپور شي په پايله کې به يې افکار او عقائد فاسد او له کاره ولويږي؛ لکه د بيلګې په توګه په ځينو پخوانيو او معاصرو تفاسيرو کې چې د الله تعالى د ذات او صفاتو ، د ملائکو او انبياء عليهم السلام ، د قيامت د ورځ. ..په اړه چې ځينی ناسم تفسيرونه موجود دي[1] د مسلمانانو معتقدات او افکار يې د ګواښ سره مخ کړي دي.

2 - په تفسير کې دخيل يا د قرآن کريم ناسم تفسير په حقيقت کې د هغه موخې او هدف څخه – چې قرآن کريم د هغه په خاطر نازل شوی دی – انسانان ليرې کوي؛ ډيرى خلک په همدی سبب د قرآن کريم د لارښوونو؛ وعظونو او نصيحتونو څخه محروم دي.

3 - همدا راز هغه بې اساسه او موضوعي روايتونه؛ دروغجنې اسرائيلي قصې؛ د ګمراه او بدعتي ډلو او فرقو وهمي او ګمراه کوونکي تفسيرونه چې کله د قرآن کريم د تفسير په توګه بيانيږي دا په حقيقت کې د اسلام پاک اوسپيڅلي دين د يو خرافي دين په بڼه معرفي کوي

4 - د قرآن کريم په تفسيري کتابونو د دخيل او ناسم تفسير شتون هغه باور او اعتماد سخت ټکني کوي – کوم چې د امت د مخکښانو(صحابه کرامو او تابعينو) په اړوند خلک لري – ځکه چې هغوی د امت په منځ کې په عدالت ؛ علم؛ تقوى او پرهيزګاری شهرت لري؛ نو کله چې په دروغو هغوی ته دا راز ناوړه تفسيرونه منسوب کيږي چې د عقل اوعلم په تله برابر نه وي طبيعي ده چې په هغه سترو انسانانو د خلکو باور او اعتماد ته خورا زيان رسيږي.

- **د « دخيل» يا نادرست تفسير ډولونه:**

کولای شود « دخيل» يا نادرست تفسير ډولونه په لاندی دوه برخو وويشو:

**الف:** په مأثور يا منقول تفسير کې د « دخيل» يا نادرست تفسير ډولونه.

**با** : په اجتهادي تفسير کې د « دخيل» يا نادرست تفسير ډولونه.

په مأثور يا منقول تفسير کې د « دخيل» يا نادرست تفسير ډير ډولونه د تفسير په کتابونو کې زموږ تر سترګو کيږي چې کولای شو په لاندې ډول يې وويشو:

- هغه ساختګي او موضوعي اقوال چې رسول الله صلى الله ته يې نسبت شوی دي.
- هغه کمزوي او ضعيفه اقوال چې د تفسير په کتابونو کې نقل کړای شوی دي په ځانګړي ډول هغه چې ضعف او کمزوتيا يې جبيره کيدونکې نه وي.
- د شريعت سره په ټکر او تضاد کې واقع هغه اسرائيلي قصې او روايتونه چې ډيرى يې زموږ د تفسير په کتابونو کې رانقل شوی دي.
- هغه تفسيري روايتونه او اقوال چې په نادرسته توګه صحابه کرامو رضى الله عنهم ته منسوب شوی دي.
- هغه تفسيري روايتونه او اقوال چې په نادرسته توګه تابعينو کرامو رحمهم الله ته منسوب شوی دي.
- هغه تفسيري روايتونه او اقوال چې صحابه کرامو رضى الله عنهم ته منسوب شوی دي او د قرآن کريم د آيتونو يا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارکو حديثونو او يا هم د عقل سره په ټکر کې په داسی توګه واقع شوی وي چې په يو وخت کې يې جمع کول شونی نه وي.
- هغه تفسيري روايتونه او اقوال چې تابعينو رحمهم الله ته منسوب شوی دي او د قرآن کريم د آيتونو يا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارکو حديثونو او يا هم د عقل سره په داسی توګه په ټکر کې واقع شوی وي چې په يو وخت کې يې جمع کول ناممکن وي.[2]

**په اجتهادي تفسير کې د « دخيل» يا نادرست تفسير ډولونه:**

---

1.ځينی مثالونه به يې په راتلونکيو پاڼو کې راشي ان شاءالله.
2. د دې ډول (دخيل) مثالونه په لويه کچه د تفسير په کتابونو کې شتون لري، د موضوع د اوږوالي له امله ترې دلته صرف نظر کوو که په اړه د ليکنې کوم بل فرصت پيدا شو ان شاءالله هلته به بيا په تفصيل سره پرې وغږيږو.

کله چې ځينو هغه تفسيري کتابونو ته چې په اجتهادي بڼه ليکل شوی مراجعه کوو د « دخيل» يا نادرست تفسير ډېرى بيلګې او نمونې مو د مخه کيږي، کولای شو په اجتهادي يا بالراى تفسير کې «دخيل» يا نادرست تفسير په لاندې ډولونو وويشو:

- د هغه اسلام دښمنه کړيو لخوا د قرآن کريم ناسم او نادرست تفسير چې په اسلام شريعت باور نلري، او په اسلام دښمنۍ کې يې ټولې پولې ماتې کړې، د دی کينې او عداوت پر بنسټ او مسلمانانو ته د زيان رسونې په منظور قرآن کريم تفسيروي.
- پرته له دی چې دا په پام کې ونيول شي - چې د الله تعالى د ذات سره څه ښايي او څه نه ښايي - د قرآن ظاهري نص په پام کې نيول او بيا هغه تفسيرول.
- د قرآن کريم آيتونه تحريفول، او د خپل مزاج سره سم هغه تفسيرول.
- د قرآن کريم د آيتونو څخه د باطني او پټو معناګانو په استخراج کې - پرته له کوم دليل څخه - له حده زيات تکلف کول.
- د قرآن کريم د آيتونو د تفسير په لړ کې د عربي ژبې په قواعدو صرف او نحو کې دومره زيات تکلف او غلو کول او د مالوفو او معلومو قواعدو له دائرې څخه وتل.
- د ناپوهي او جهل پر اساس د قرآن کريم تفسير کول، په داسې توګه چې د تفسير لپاره اړين شرائط او مطلوبه علوم په پام کې نه نيول.
- د قرآنی آيتونو څخه د نويو سائنسي ايجاداتو او مکتشفاتو د اثبات لپاره او د هغه سره د سائنسي نظرياتو د سمون او برابرۍ په منظور له حده زيات تکلف کول.

او دا په پام کې نه نيول چې سائنسي نظريات د وخت په تيريدو بدليږي او تغير مومي.[1]

- **د دخيل يا ناسم تفسيرد ورود(داخليدلو) لوی دروازې:**

که په پخوانيو او معاصرو تفسيري کتابونو يو ځغلنده نظر واچوو دا به راته جوته شي چې هغه لارې او دروازې چې زموږ تفسيري تراث يې ډېر اغيزمن کړی، او ورڅخه بې شميره نادرست تفسيري روايتونو او اقوالو(دخيل) د تفسير ساحې ته لاره پيدا کړې په لاندې ډول دي:

الف:اسرائليات

ب:بې لارې ډلې او فرقې

ج:د قرآن کريم علمي او سائنسي تفسير هڅه

د:د سيکولارانو او بې دينانو تفسير

په راتلونکيو کرښو کې به په لنډه توګه هر يو باب د ځينې لاندی نيسو، او د دی دعوی د اثباب لپاره – چې دا د تفسير په ډګر کې (دخيل) يوه دروازه ده - يو څو مثالونو وړاندې کوو.

**لومړۍ: اسرائيليات**

لومړۍ لويه دروازه چې ورڅخه ناسم تفسيري روايتونو(دخيل) د تفسير ساحې ته لاره موندلې اسرائيليات دي په لاندی کرښو کې د اسرائيلياتو معنى او مفهوم، په تفسيري کتابونو کې د اسرئيلياتو ځينې بيلګې او ناوړه اغيزو ته اشاره کوو.

**د اسرائيلياتو معنى او مفهوم:**

داکټر محمد حسين ذهبي وايي: الإسرائيليات، د إسرائيلية جمع ده، نسبت يې إسرائيل، يعنې يعقوب بن إبراهيم د دولس اسرائيلی قبيلو پلار ته دی، هغه شخصيت چې ټول يهوديان ورته منسوب دي. مراد ترى هره هغه قصه او واقعه ده چې د إسرائيلي مصدر څخه رانقل شوی وي.[2]

او په اصطلاح کې:اسرائيليات، هغه ټولې پخوانۍ قصې او داستانونه دي چې د تفسير او حديث ساحې ته د يهودي، نصراني او يا کوم بل اجنبي مصدر څخه را نقل شوي وي.[3]

**په تفسيري کتابونو کې د اسرئلياتو بيلګې:**

کله چې د تفسير کتابونو ته مراجعه کوو ډول ډول اسرئيلی اقوال او روايتونه مو تر سترګو کيږي مثلا د عقيدوي مسائلو، د احکامو، د وعظ او نصيحت او تاريخي پيښو وغيره اړوند اسرائيلياتو د تفسير په کتابونو کې ځای نيولی چې ځينې بيلګې يې دلته ذکر کوو:

- ګڼو مفسرينو په خپلو تفسيرونو کې دهاروت او ماروت عجيبه اسرائلي قصې ذکر کړي د دی قصو په ترڅ کې دا دواړه ملائکې و العياذ بالله په فساد، قتل، شراب خوړې او زنا کارۍ. ..تورنې کړي. او د همدی اسرائلي قصو په اوږدو کې ويلې چې دا دواړه ملائکی د هغه جرم په پايله کې چې دوی ترسره کړې و د بابل د ښار په کوهي کې سرچپه را ځوړندې دي...[4]
- د عظيم او صابر پيغمبر ايوب عليه السلام په اړه په ډېرو مفسرينو لکه:ابن جرير، ثعلبي واحدي، او دهغوی څخه وروسته رازي، قرطبي او نورو داسې اسرائيلې روايتونه ذکر کړي چې شرعا او عقلا د منلو وړ نه دي، او د پيغمر د شان سره نه ښايي، د مثال په توګه په دی قصه کې ذکر شوي چې: د ايوب عليه السلام د ازموينې او ابتلاء لامل دا و چې يو ځل ايوب عليه السلام يوه پسه ذبحه کړای و، پخپله يې وخوړ او په څنګ کې همسايه يې وږی پاته و[5]. همدا راز وايي چې: ايوب عليه السلام دومره ناداره او فقير شوی و چې ميرمن يې د هغه د خوراک د انتظام په خاطر خپلې کمڅې د دوه ډوډيو په بدله وپلورلې. د هغه عليه السلام د مريضتيا په اړه يې ( د نبوت د مقام سره په څرګند ټکر کې واقع) دا قصه ذکر کړی چې ګواکې ايوب عليه السلام په داسې مرض اخته شوی و چې خلکو به ترې کرکه او نفرت کولو،بدن يې

---

1. د دی ډول (دخيل) ګڼ مثالونه هم لويه کچه د تفسير په کتابونو کې موجود دي، د اوږوالي له امله ترى دلته صرف نظر کوو که په اړه د ليکنې کوم بل فرصت پيدا شو ان شاءالله هلته به بيا په تفصيل سره پرې ليکنه وکړو.
2. محمد حسين الذهبي، الإسرائيليات في التفسير و الحديث، ص 13
3. پورتنی مرجع ص١٣
4. لباب التأويل في معاني التنزيل ج 1ص65للشيخ علاء الدين علي بن محمد بن إبراهيم بن عمر الشيحي أبو الحسن، المعروف بالخازن (المتوفى: 741هـ)تصحيح: محمد علي شاهين د چاپ ځای:دار الكتب العلمية – بيروت لومړي چاپ 1415 هـ
5. تفسير النسفي (مدارك التنزيل وحقائق التأويل) ج3ص157 للشيخ أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (المتوفى: 710هـ)تحقيق: يوسف علي بديوي د چاپ ځای: دار الكلم الطيب، بيروت .لومړي چاپ 1419 هـ - 1998 م

شړېدلی او بدبويه شوی و، د ميرمنی پرته يې نور هيڅوک ورته نشوای نيږدی کيدای، او بالآخره خلکو د دی شديد تعفن او بدبويي له امله د خپلی قريی څخه بيرون ايستلو ته اړ کړ.....[1]

- د دی آيت په تفسير کې {وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَ وَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ}[2] امام ابن جرير طبري او د هغه څخه وروسته نورو مفسرينو ډيره عجيبه او غريبه اسرائيلي قصه ذکر کړی چې د پيغمبري عصمت سره په بشپړه توګه په تضاد کې ده، لنډيز يې دا دی چې: د (جسد) څخه مراد د (الصخر المارد) په نوم يو شيطان دی چې د سليمان عليه السلام - هغه ګوته چې پادشاهي يې پرې قائمه وه - يوه ورځ تر لاسه کړه او سليمان عليه السلام پر ځای پر واک مسلط شو.....[3]
- امام بخاري -رحمه الله-د دی آيت لاندې:{قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ}[4] د ابن عمر رضی الله عنهما په روايت دا قصه ذکر کوي چې: يو ځل ځينې يهودان د يوسړي او يوې ښځې سره – چې د زنا ارتکاب يې کړی و ـ د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- په خدمت کې (د فيصلې په خاطر)حاضر شول، رسول الله -صلی الله عليه وسلم- هغوی ته وفرمائيل: څوک چې په تاسی کې د زنا ارتکاب وکړي دهغه په اړوند تاسی څه ډول فيصله کوی؟ هغوی ځواب ورکړ: مخ يې تورو او يا يې هم مخ تورو او وهوو يې. بيا يې ورڅخه وپوښتل: آيا تاسی په تورات کې د رجم حکم نه دی ليدلی؟ هغوی ځواب ورکړ: نه صيب، په تورات کې په اړه هيڅ حکم وجود نلري، عبد الله بن سلام چې د دوی امام او عالم و – وويل: تاسی درواغ وويل: {فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} يعنی که چيرې تاسی ريښتونې ياست تورات راوړئ او وی لولی.(کله يې چې تورات راوړ) يهودي ملا د رجم پر آيت لاس کيښود او د هغه مخکې او شاته آيتونه يې لوستل پيل کړل، عبد الله بن سلام رضی الله عنه يې لاس ليری کړ او ورته يې وويل: دا څه شی دی؟ کله يې چې وليدل ويی ويل: هو دا ريښتيا هم د رجم آيت دی، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د دواړو په اړوند د رجم حکم صادر کړ، او د جنازه ګاه سره نيږدې دواړه رجم کړای شول.[5]
- د دی آيت{وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَى وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ}6 په تفسير کې او ځانګړې ډول د ( السکينة) د لفظ په معنی کې د اسرئيلي قصو په استناد مختلفی معناګانې مفسرينو ذکر کړې، دمثال په ډول وايی چې:سکينة د پيشو په څير يو ډول حيوان و چې دوه وزرې او لکی يې درلوده او سترګو يې يو پړقيدونکې ځلا درلوده کله به يې چې پر يو لښکر نظر واچوو، لشکر به شکست وکړ.....[7]
- امام ابن کثير او نورو مفسرينو په خپلو تفسيرونو کې د دی آيت لاندې: {وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ} 8 د ابن اسحق په حواله دا اسرائيلي روايت ذکر کړی چې: الله تعالی نوح عليه السلام ته امر وکړ چې کشتی د (ساج)[9] د ونې د لرګيو څخه جوړه کړه، په داسی ډول چې ۸۰لاسه اوږده او ۵۰ لاسه سوروره وي، دننه او بيرون په تارکولو غوړه کړای شوی وي، او مضبوط او غښتلي لرګي پکې نصب کړه تر څو په قوت سره اوبه څيري او خپل سير ته ادمه ورکړي..... [10]
- همدا راز امام ابن جرير، او امام سيوطي ددی آيت {ن * وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ} (القلم: 1، 2) لاندې د اسرائيلي روايتونو څخه په استفاده عجائب او غرائب ذکر کړي چې عقلا او علما د منلو وړ نه دي لکه وايي: د (ن) څخه مراد هغه کب دی چې ـ يهموت نوميږي ـ او ټوله مځکه يې په خپله ملا اوچته کړی ده......[11]
- امام نسفي امام ثعلبي، الکشاف او نورو مفسرينو په خپلو کتابونو کې د دی آيتونو لاندی: {أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ * إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ * الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ}12 د إرم ذات العماد په اړه عجيبې قصی ذکر کړي ليکې چې: دا يو ډير ستر ښار و،قصرونه او ودانی يې د سرو او سپينو څخه، ستنې يې د زمردو او ياقوتو څخه جوړی شوی وی،چې پکې ډول ډول ونې، باغيچې او نهرونه وو.... [13]

**د اسرائيلي روايتونو بدی اغيزې:**

پرته له شکه د اسرائيلياتو له لارې چې کوم (دخيل) او ګډوډ تفسيرونو د تفسير ساحی ته را داخل شوی دي په فکري او عملي اعتبار ډيرې بدی پايلی او اغيزی لري په دی لړ کی ځينو ته يې په لنډ ډول اشاره کوو:

- له دی امله چې د اسرائيلياتو له لاری د الله تعالی د پاک ذات په اړوند، د پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام په هکله ډير درواغجن او باطل روايتونو د تفسير کتابونو ته لاره موندلی د خلکو پر عقائدو او افکارو خورا ناوړه اغيز لري.
- ډير نادرست، باطل او ګډوډ اسرائيلي روايتونه چونکه صحابه کرامو رضوان الله عليهم، تابعينو او اتباع تابعينو ته منسوب دي له دی امله ډير وګړي د امت د مخکښانو په اړه – چې په ريښتينولی او عدالت شهرت لري ـ بی باوره کيږي.

---

1. الجواهر الحسان في تفسير القرآن ج4 ص96 د أبو زيد عبد الرحمن بن محمد بن مخلوف الثعالبي (المتوفى: 875هـ) ليکنه، تحقيق: شيخ محمد علي معوض والشيخ عادل أحمد عبد الموجود، د چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي – بيروت. لومړی چاپ - 1418 هـ
2. ( سورت ص: 34)
3. الکتاب: تفسير الطبري = جامع البيان عن تأويل آي القرآن د امام محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (المتوفى: 310هـ)ليکنه، ۲۰/ ۸۹ تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي ، د چاپ ځای: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان .لومړی چاپ ، 1422 هـ - 2001 م
4. (آل عمران: 93)
5. صحيح البخاري للامام محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي د حديث شميره(4556)جز6 ص37 د چاپ ځای: دار طوق النجاة ،لومړی چاپ1422هـ
6. (البقرة: 248)
7. الکشف والبيان عن تفسير القرآن د شيخ أحمد بن محمد بن إبراهيم الثعلبي، أبو إسحاق (المتوفى: 427هـ) ليکنه 2 / 213 ،تحقيق: شيخ أبي محمد بن عاشور، د چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي، بيروت – لبنان . لومړی چاپ 1422، هـ - 2002 م
8. (هود: 37)
9. ساج: يو ډول هندی ونه ده.
10. تفسير القرآن العظيم د امام أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (المتوفى: 774هـ) 4 /319 تحقيق: سامي بن محمد سلام د چاپ ځای: دار طيبة للنشر والتوزيع ،دويم چاپ 1420هـ - 1999 م
11. الدر المنثور د امام عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: 911هـ) ليکنه؛ 8/ 242 د چاپ ځای: دار الفكر - بيروت
12. (الفجر: 6 - 8)
13. إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم د امام أبو السعود العمادي محمد بن محمد بن مصطفى (المتوفى: 982هـ) ليکنه؛۱۵۴/۹ د چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي - بيروت

- همدا راز د دی باطلو اسرائيلي روايتونو يو ډير بد اغيز دا دی چې خلک يې د قرآن کريم د اصلي لاربښوونو څخه بی برخې کړي، عجيبو او غريبو اسرائيلي کيسو او داستانونو د قرآن کريم د پندونو، نصيحتونو او په هغه کې د تدبر او غور کولو او د ژوند په هر ډگر کې د هغه د عملي تطبيق څخه انسانان په واټنونو واټنونو ليری کړي.
- په تفسيري کتابونو کې د اسرائيلياتو يو ډير بد اغيز دا دی چې د اسلام د پاک، کامل او مقدس دين په اړوند يې خلک بی باوره کړي ځکه چې اسرئيلي کيسی اسلام په يو داسې خرافي او گډوډه بڼه خلکو معرفی کوي، گواکې دا دراوغو او باطلو کيسو يو ټولگه ده.

**دوهم :بی لارې ډلی او فرقی:**

دويمه ستره دروازه چې ناسم تفسيري روايتونو(دخيل) ورڅخه د تفسير ساحې ته لاره موندلی بی لارې ډلی او فرقی دي په لاندی کرښو کې په ډير لنډ ډول ذکر کوو.

**لومړې ډله: خوارج**

خوارج په لغت کې د خارج او خارجي جمع ده او د ( خروج ) څخه اخستل شوی دی، خوارجو ته ځکه خوارج ويل کيږي چې د خلکو په ضد يا د حق پر ضد او يا هم د صفين د جنگ پر مهال د حضرت علي رضی الله عنه پر ضد يې خروج کړی و.[1]

خوارج په اصطلاح کې: په دی اړه مورخين او د فرقو علما دوه قوله لري.

لومړی:خوارج هغه خلک دي چې د حضرت علي -رضي الله عنه- پر ضد يې پاڅون کړی و.[2]

دوهم: د خوارجو اطلاق په هر هغه ځا کيږي چې د هغه برحق امام پر ضد پا څون وکړي چې د مسلمانانو سواد اعظم پری اتفاق کړی وي، برابره خبره ده چې دغه پاڅون د راشده خلفاو په زمانه کې صورت موندلی وي او يا هم په ورستنيو زمانو کې صورت ومومي.[3] خوراج که څه هم د نورو ډلو په څير په ليکلی بڼه ډير تفسيري کتابونه نلري ولی بيا هم يو څه کتابونه چې دکتور محمد حسين ذهبي ورته اشاره کړی په لاندی ډول دي.

- تفسير عبد الرحمن بن رستم الفارسی دريمه هجری پيړې.
- د هود بن محكم الهواری دريمه هجری پيړی.
- د أبو يعقوب، يوسف بن إبراهيم الورجلانی شپږمه هجري پيړی.
- د نني عصر يو خارجي محمد بن يوسف إطفيش دوه تفسيرونه د ( داعي العمل ليوم الأمل) او(هميان الزاد إلى دار المعاد) په عنوان لري.[4]

**د خوارجو د تفسير ځينې بيلگې:**

- خوارج ډير ځلی د خپل مذهب د اثبات لپاره د قرآن کريم د آيتونو نادرست او غلط تاويل کوي او له ځانه د آيتونو د نزول اسباب جوړوي، د مثال په توگه د حضرت علی رضی الله عنه د تکفير د اثبات لپاره د دی آيت د نزول په سبب استدلال کوي **{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ}5. او وايي چې د ابن مُلجم په اړه دا آيت را نازل شوی {وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ}[البقرة:207]6** چې د ا يو نادرست او فاسد تاويل دی، چی نه يی عقل مني او نه هم شرع.
- د اهل سنت او جماعت د نظر او منهج پر خلاف خوارج د کبيره گناه مرتکب کافر گڼي او ددی فاسد نظر لپاره د قرآن کريم په ځينو آياتونو استدلال کوي او د دی فاسد مذهب د اثبات لپاره ډير آيتونه تحريفوي، د مثال په توگه د دی آيت په هکله:**{فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ}[آل عمران:97]**. وايي: چې الله تعالی د حج تارک په کفر توصيفوي، حال دا چې د حج پريښودل گناه ده نو معلومه شوه چې هر گناهگار کافردی.
- د آل عمران سورت د دی آيت **{يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ}[آل عمران:106]**. په تفسير کې وايي: فاسق به د قيامت په ورځ هيڅکله د هغه خلکو له جملی نه وشميرل شي چې مخونه يې سپين ځليږي بلکه د هغه خلکو له ډلی څخه به وي چې مخونه يی تور وي نو په همدی اساس ورته په دی آيت کې کافر ويل شوی. همدا راز د دی آيت **{وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ*ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ*وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ*تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ*أُولَئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ}[عبس:38-42]**، تفسير داسی : هيڅکله شونی نده چې يو فاسق انسان دی د هغه خلکو له ډلی څخه حساب شي چې مخونه يې ځليږي او خوشحاله وي بلکې د کافر پر مخ به توره تياره خپره وي نو ځکه اړينه ده چې هغه بايد د کافرانو له ډلې څخه وشميرل شي.[7]

دا او دی ته ورته ډير آيتونه چې خوارجو د خپل فاسد مذهب او باطل فکر د اثبات لپاره پری استدلال کوي او د قرآن کريم بی شميره آيتونه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم گڼ شمير احاديث چې – د کبيره گناه مرتکب پکې مومن گڼل شوی ـ له پامه غورځوي.

د حج په اړوند د آل عمران سورت پر آيت چې دوی استدلال کوي په حقيقت کې د کفر نسبت هغه چا ته ندی شوی چې حج نکوي بلکی په دی آيت هغه څوک کافر بلل شوي چې د حج د فريضيت څخه منکر وي.[8]

1. لسان العرب، د محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور إفريقى (711هـ) ليکنه (74/2) د چاپ ځای: دار صادر – بيروت دريم چاپ - 1414 هـ. او تاج العروس من شرح جواهر القاموس، د محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبوالزَّبيدي (المتوفى: 1205هـ)ليکنه(30/2). د چاپ ځای: دار الهداية
2. مقالات الإسلاميين واختلاف المصلين د أبو الحسن علي بن إسماعيل بن أبي موسى الأشعري (324هـ)ليکنه(307/1).چاپ: دار فرانز شتايز، ألمانيا.دريم چاپ 1400 هـ - 1980 م .او الفرق بين الفرق وبيان الفرقة الناجية د عبد القاهر بن طاهر بن محمد بن عبد الله البغدادي التميمي الأسفراييني، أبو منصور (المتوفى: 429هـ)جز1 ص61 د چاپ ځای: دار الآفاق الجديدة – بيروت دويم چاپ، 1977م.
3. الملل والنحل د أبو الفتح محمد بن عبد الكريم بن أبى بكر أحمد الشهرستاني (548هـ)ليکنه(114/1). د چاپ ځای: مؤسسة الحلبي .
4. التفسير والمفسرون د دكتور محمد السيد حسين الذهبي (1398هـ)ليکنه ۲ / ۲۳۲ د چاپ ځای: مكتبة وهبة، القاهرة.
5. [البقرة:204]
6. الكامل في اللغة والأدب د محمد بن يزيد المبرد، أبو العباس (285هـ)ليکنه.**(2/108)** تحقيق:محمد أبو الفضل إبراهيم.د چاپ ځای:دار الفكر العربي – القاهرة دريم چاپ:1417 هـ - 1997 م
7. -انظر: العقود الفضية في أصول الإباضية، سالم بن حمد الحارثي، ص.**(290-228)**
8. تفسير ابن كثير**(1/386)**

او د آل عمران سورت په ۱۰۶ شمیره آیت اساسا د قیامت په ورځ د مومنانو او کافرانو حالت بیانوي چې د ایمان څښتنان به د قیامت په ورځ سپین ځلیدونکې مخونه او کفاربه تور مخي وي، یعنی دا آیت اصلا د گناهکار مسلمانانو په اړوند ندی.[1]

- د هغه فاسدو تأویلاتو له جملې څخه چې نافع بن الأزرق خارجي یې کوي د دی **آیت {وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ}[2]**، تأویل دی چې: لمونځ یواځې دوه رکعته د شپې او دوه رکعته د سهار دی، له دی پرته نور لمونځ نشته.
- دا آیت **{وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ}[3]**تفسیروي چې: د حج لپاره کومه ځانگړې میاشت نه ده ټاکل شوی بلکی د کال په ټولو میاشتو کې ادا کیدای شي.
- د دی **{وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ}[4]**چې د غل لاس باید د ولي(مټ) څخه پرې کړای شي نه د مړوند څخه، همد راز که غلا ډیره وي او که کمه باید د غل لاس پرې شي.[5]
- د دی آیت **{إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا}[6]**په تفسیر کې ځینی خوارج وایي : که چیرې چا د کوم یتیم یتیم مال وخوړ هغه جهنمی دی او که یتیم یې قتل کړ یا ورته خیټه څیرې کړه هغه جهنمی ندی ځکه په دی اړه په نص کې څه ندي راغلي. [7]

**دویمه ډله: شیعه گان**

شیعه یا تشیع د لغت په اعتبار د یو چا تایید، ملاتړ او ملگرتیا کول دي، د عربي ژبې استاد ابن درید وایي:فلانې د فلاني له شیعو څخه دی هغه وخت ویل کیږي چې د هغه رایه او نظر تآیید کړي.[8] او امام ازهري وایی: شیعه د یو چا انصارو او ملگرو ته ویل کیږي.[9]

**شیعه په اصطلاح:**

د فرقو عالم ښاغلې شهرستاني[10] وایی:شیعه گان هغه ډله ده چې په ځانگړي ډول د حضرت علي رضی الله عنه ملاتړ کوي او د وصیت او نص پر اساس د هغه امامت او خلافت ثابتوي.او زیاتوي چې خلافت مصلحتي او جانبي قضیه نه ده چې پیغمبر ورڅخه بی تفاوته او غافل پاتی شي او عوامو ته دی یې وسپاري بلکې د دین رکن او یوه اصولي او اساسي قضیه ده. [11]

په تاریخي لحاظ د شیعه گانو بیلا بیلی ډلی پیدا شوي چې په اصولو او فروعو کې یو له بل سره توپیر لري دا گڼې شیعه ډلی څلور غټو فرقو( السَّبَئية، والكيسانية، والزَّيدية، والرَّافضة) ته راگرځي. [12]موږ دلته په ډیر لنډیز د شِّيعة إمامية اثْنَي عشرية دریځ د قرآن کریم او د هغه د تفسیر په اړه بیانوو چې ورڅخه به جوته شي چې د قرآن کریم شیعي تفسیرونه د (دخیل) د بد ترینو ډولونو څخه شمیرل کیږي، ځینو شیعه گانو د خوراجو په څیر د خپلو فاسدو او ناوړه افکارو د اثبات او ترویج په خاطر قرآن کریم تحریف کړی.

**د قرآن د تفسیر په اړه د شیعه گانو دریځ او ځینې تفسیري بیلگې یې:**

- شیعه گان د قرآن په اړه ادعا لري چې: قرآن ظاهر او باطن لري، یعنی هر ظهر بطن، او هر بطن ظهر لري. او ورڅخه معاني او مفاهیم استنباط کول د مفسر په نسبت جلاجلا مرتبی او مقامات لري، ظاهر او باطن نسبي دي. [13] په حقیقت کې دا د شیعه گانو هغه بی اساسه او غلطه قاعده ده چې په تفسیري میدان کې یې هر ډول ناسم تفسیر(دخیل) ته یې لاره هواره کړی، ځکه چې ناسم تفسیر په باطني معنی باندی حمل کوي.

د قرآن د تحریف قائل دي، وایی چې: دا موجوده قرآن د الله تعالی هغه درست او صحیح کتاب نه دی، هغه قرآن چې حضرت علي رضی الله عنه جمع کړی او ترتیب کړی و او بیا تری امامانو په میراث وړی، هغه چې تحریف او تغییر پکې ندی شوی هغه درست او صحیح قرآن دی،پدی موجوده قرآن کې تحریف شوی او بدل کړای شوی دی، د آل بیتو فضائل تری حذف شوی دي کافی د جعفرصادق څخه دا روایت رانقل کړی چې: (أنَّ القرآن الذي نَزَل به جبريلُ على محمَّد سبعَةَ عشرـ ألْف آية، والَّتي بأيْدينا منْها ستَّة آلاف ومائتان وثلاث وستُّون آيةً، والبواقي مَخْزونة عند أهْل البيت فيما جمَعه عليٌّ[14].

یعنی: هغه قرآن چې جبریل(علیه السلام) پر محمد(صلی الله علیه وسلم) نازل کړی هغه (۱۷۰۰۰) اولس زره آیتونه دي او دا موجوده قرآن کې فقط (۶۲۶۳) شپږ زره دوه سوه دری شپیته آیتونه لري، دا باقی مانده نور آیتونه - په هغه قرآن کې چې حضرت علی(رضی الله عنه) راجمع کړی و- د آل بیتو سره محفوظ دي.

همدا راز په اصول "الكافي" د جعفر بن محمد الصَّادق دا وینا : "عندنا مصحف فاطمة عليها السَّلام - وما يُدْريهم ما مُصْحف فاطمة؟! مصْحفٌ فيه مِثْل قرآنِكم هذا ثلاثَ مرَّات، واللهِ ما فيه من قرآنِكم حرْفٌ واحد.[15]

---

1. پورتني مرجع(1/390 )
2. [هود:114]
3. [آل عمران:97]
4. [المائده:38]
5. شرح نهج البلاغة، .(1/382)
6. [النساء:10]
7. تلبيس ابليس، ابن الجوزي، المؤلف: جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (المتوفى: 597هـ) ص.(95) د چاپ ځای: دار الفكر للطباعة والنشر، بيرزت، لبنان لبنان .لومړي چاپ، 1421هـ/ 2001م
8. جمهرة اللغة: 63/3 د أبو بكر محمد بن الحسن بن دريد الأزدي (321هـ) ليکنه ،تحقيق: رمزي منير بعلبكي دچاپ ځای: دار العلم للملايين - بيروت،لومړي چاپ 1987م
9. الأزهري/ تهذيب اللغة: 61/3 د محمد بن أحمد بن الأزهري الهروي، أبو منصور (370هـ)ليکنه ، د محمد عوض مرعب تحقيق د چاپ ځای : دار إحياء التراث العربي – بيروت ،لومړي چاپ 2001م
10. محمد بن عبد الكريم بن أحمد أبو الفتح چې په شهرستاني شهرت لري په كال 467ه كي نړۍ ته راغلي ،د فرقو، علم كلام او اصولو ستر عالم و، د ليکنو څخه يې: الملل والنحل، نهاية الإقدام، ډير مشهور دي او په (548هـ) کې وفات شوی،: طبقات الشافعية: 6/128-130، مرآة الجنان: 3/284-290
11. الملل والنحل: 146/6 د أبو الفتح محمد بن عبد الكريم بن أبى بكر أحمد الشهرستاني (548هـ)ليکنه، د چاپ ځای: مؤسسة الحلبي.
12. الأديان والفِرَق والمذاهب" عبدالقادر شيبة الحمد، 146.
13. منهج الاستنباط من القرآن الكريم. المؤلف, فهد بن مبارك بن عبد الله الوهبي ص ۳۶۰ تحقيق: محمد بن عبد الرحمن الشايع. الناشر, مركز الدراسات والمعلومات القرآنية بمعهد الامام الشاطبی کال ۲۰۰۷م
14. التفسير والمفسرون"، (2/ 29 - 28) په لږ تصرف سره.
15. اصول الكافي"، ج/ 1239. للكليني وفات 329 هـ ق محقق / غفاري على اكبر و آخوندي، الناشر: دار الكتب الإسلامية مكان النشر: تهران سنة الطباعة: 1407 ق

له موږ سره د بی بی فاطمی مصحف دی، دوی د فاطمی د مصحف څخه څه خبر دي؟ هغه مصحف ستاسی ددی قرآن دری برابره دی، په الله سوګند چې ستاسی د قرآن يو حرف هم په هغه کې نشته.

يو معروف شيعی نعمة الله جزائري وايي: "الأخْبار مسْتفيضة بل مُتواتِرة، وتَدلُّ بصريحِها على وقوع التَّحريف في القرآن كلامًا ومادَّةً وإعرابًا[1].

مشهور بلکی متواتر روايتونه شتون لري، پدی خبره تصريح کوي چې د قرآن په کلام، ماده او اعراب کې تحريف صورت موندلی.

- د خپلوامامانو په اړه شيعه ګان دا عقيده لري چې هغوی مقدس , معظم او معصوم دي، دوی د ځمکې ارکان او ستنې دي، د ځمکې په سر او د ځمکې لاندی پر ټولو خلکو حجت دي. شيعه ګان عقيده لري چې امامت د دين اساس، د مسلمانانو نظام، د دنيا رغونه او د مومنانو پت او عزت دی.2 د امامانو په اړه د دوی د دی دريځ اغيز د هغوی په تفسيري کتابونو ډير څرګند دی ګن آيتونه يې د همدی دريځ او عقيدی پر اساس تفسير کړي چې په پايله کې ډيرې ناسم تفسيري اقولو(دخيل) د تفسير ساحې ته لاره موندلی.

**د شيعه ګانو ځنيې تفسيري بيلګې:**

دلته په لنډ ډول د شيعه ګانو له تفسيرونو څخه ځينی مثالونه وړاندی کوو چې په دلالت کوي چې څومره ناسم تفسيري اقول(دخيل) د دوی له لاری د تفسير ډګر ته را داخل شوی دي.

مخکې مو ياد وکړه چې شيعه ګان د قرآن په باطني معنا عقيده لري او په دی اساس يې ډير قرآني آيتونه تفسير کړي دی مثلا:

- د دی آيت {وَكُلَّ شيَءٍ أحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ} 3څخه علي مراد دی.4
- وايې د دی آيت {فَقَاتِلُواْ أَئِمَّةَ الْكُفْرِ}5 څخه طلحة والزبير.6
- او د دی آيت {وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي القُرْآنِ} 7 څخه بنو أمية مراد دي.8

شيعه مفسرين وايي په : {اهدِنَـا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ} 9کې (الصراط المستقيم) څخه مراد أمير المؤمنين دی.10

- د الله تعالی د دی فرمان{وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا} 11په اړه د الصادق څخه نقل کوي چې وايی: "الشمس أمير المؤمنين، وضحاها: قيام القائم" د (الشمس) څخه مراد امير المومنين او (وضحاها) څخه مراد د القائم پاڅون او قيام دی.12
- او وايي:د (المسجد، المساجد، والكعبة، والقبلة ) څخه امام او ائمه مراد دي.عياشی د دی آيت {وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ}[13] لاندی ليکي: له دی څخه امامان مراد دي.[14]
- د شيعه مفسرينو په نيز د (السجود) څخه په دی آيت کې: {وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ}[15] د امامانو ولايت مراد دی. وايې چې کله دوی دعلي (رضی الله عنه) ولايت ته راغوښتل کيدل په داسی حال کې چې دوی سالم او روغ وو.[16]
- د شيعي تفسير پر اساس(اله) د امام په معنی دی، مثلا د دی آيت {لاَ تَتَّخِذُواْ إِلـهَيْنِ اثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلهٌ وَاحِدٌ} [17]په اړه د يو فرضي نوم ( أبو عبد الله ) په حواله وايی: "يعني بذلك لا تتخذوا إمامين إنما هو إمام واحد" يعني تاسی دوه امامان مه نيسئ امام ايکي يو دی.[18]
- همدا راز (رب) هم د هغوی له نظره د امام څخه عبارت دی او د دی لپاره د ژبې بيلا بيل استعمالات د دليل په توګه وړاندی کوي مثلا: رب البيت، ورب المال. ..او په همدی اساس د قرآن کريم ګڼ آيتونه تفسيروي مثلا د دی آيت:{وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لا يَنفَعُهُمْ وَلا يَضُرُّهُمْ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَى رَبِّهِ ظَهِيرًا} [19]قمي په خپل تفسير کې وايی: د(الكافر) څخه مراد (عمر - رضي الله عنه وأرضاه) دی – والعياذ بالله – چې د أمير المؤمنين عليه السلام پر خلاف د نورو سره مرستندوی او کومکي و.[20] د قمي په نيز د(رب) څخه مراد امام يعنی علی رضی الله عنه دی. همداراز د دی آيت {وَأَشْرَقَتِ الأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا}[21] تفسير شيعه مفسر داسې کوي: مفضل بن عمر د ابو عبد الله څخه اوريدلي چې (رب الأرض) يعني إمام الأرض، مفضل وايی چې ما ورڅخه وپوښتل کله چې: هغه راووځي نو څه به واقع شي؟ ابو عبدالله ځواب راکړ: کله چې هغه راووځي، خلک به د لمراو سپوږمۍ د رڼا څخه مستغني شي او د امام نور به ورته کافي شي.[22]

---

**1**. الأنوار النعمانية، في بيان النشأة الإنسانية نعمت الله الجزائری ج2 /357.
**2**. التفسير والمفسرون"، (2/ 19)
**3**. [يس، آية: 12.]
**4**. تفسير القمي: د ابراهيم قمي ليکنه 212/2 ، چاپ ځای : موسسة الامام المهدی قم ، لومړې چاي ۱۳۳۵ه ق
**5**. [التوبة، آية: 12.]
**6**. تفسير الصافي: 324/2 د فيض کاشاني ليکنه ۱۰۹۱ هـ ق
**7**. [الإسراء، آية: 60.]
**8**. تفسير العياشي: 297/2 محمد بن مسعود العياشي وفات ۳۲۰ هـ ق تحقيق: الحاج السيد هاشم الرسولي المحلاتي
**9**. [الفاتحة، آية: 6.].
**10**. په[مجموع فتاوى شيخ الإسلام ابن تيمية: 13/236-237.].کې دی ورته ګڼ شمير مثالونه ذکر کړي او په قوي دلائلو يې د هغه بطلان ثابت کړی.
**11**. [الشمس، آية: 1.]
**12**. تفسير القمي: 242/2، او زياتوي چې د( النهار) څخه مراد امامان دی.
**13**. [الأعراف، آية: 29.].
**14**. تفسير العياشي: 12/2،د ابو النضر عياشی ليکنه، چاپ ځای: موسسة البعثه تهران، لومړې چاب ۱۳۲۱ه ق
**15**. [القلم، آية: 43.].
**16**. تفسير الصافي: 214/5-215،د محسن کاشاني ليکنه، د چاپ ځای:دارالکتب الاسلامية ايران تهران ، لومړې چاپ ۱۴۱۹ه ش
**17**. [النحل، آية: 51.]
**18**. تفسير العياشي: 261/2
**19**. [الفرقان، آية: 55.].
**20**. تفسير القمي: 115/2.
**21**. [الزمر، آية: 69.]
**22**. تفسير الصافي: 331/4.

دا او دی ته ورته په سلګونو بې اساسه تفسيري اقوال د شيعه تفسيرونو له لارې د تفسير ساحې ته را داخل شوي دي، دا په دې دلالت کوي چې شيعه تفسيرونه دتفسير ډګر ته د ناسم تفسير(دخيل) يو ستر لار ده.

يادونه: د ليکنې په پيل کې مې اشاره کړې وه چې د ليکنې په ترڅ کې د (دخيل) يا ناسم تفسير لاملونه قدرمنو لوستونکو سره شريک کړم چې د هغې له جملې څخه مې اسرائيلياتو او ځينو ډلو ته اشاره وکړه له دې چې ليکنه اوږديږي د (دخيل) نور دوه مهم لاملونه يعنې( د قرآن کريم علمي او سائنسي- تفسير او د معاصرو سيکولارانو او بې دينانو تفسير) – چې د (دخيل) لوی ورودي دروازې بلل کيږي - ته به ان شاء الله په بله راتلونکې ليکنه کې ځای ورکړو.

**ماخذونه**


1) تاج العروس من جواهر القاموس: محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبو الفيض، الملقّب بمرتضى، الزَّبيدي.چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي ببيروت د چاپ کال: ١٩٨٤

2) المفردات في غريب القرآن – د امام راغب الأصفهاني, طبعة ١٣٨١ هـ , ١٩٦١ م , چاپ ځای: مصطفى البابي الحلبي مصر - تحقيق - محمد سعيد كيلاني.

3) الدخيل في تفسير القرآن الكريم د. عبد الوهاب فايد,لومړي چاپ 1398 هـ , 1978 م چاپ ځای: مطبعة حسان

4) الدخيل في التفسير د. ابراهيم عبد الر حمن خليفه, چاپ ځای: دار الكتاب بمصر – ١٩٨٤م

5) شرح علل الترمذي د شيخ زين الدين عبد الرحمن بن أحمد بن رجب بن الحسن، حنبلي (795هـ) ليکنه,محقق: الدكتور همام عبد الرحيم سعيد د چاپ ځای: مكتبة المنار - الزرقاء – الأردن. لومړي چاپ، 1407هـ - 1987م

6) لباب التأويل في معاني التنزيل للشيخ علاء الدين علي بن محمد بن إبراهيم بن عمر الشيحي أبو الحسن، المعروف بالخازن (741هـ)تصحيح: محمد علي شاهين د چاپ ځای:دار الكتب العلمية – بيروت لومړي چاپ 1415 هـ

7) تفسير النسفي (مدارك التنزيل وحقائق التأويل) د شيخ أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (710هـ)ليکنه، تحقيق: يوسف علي بديوي د چاپ ځای: دار الكلم الطيب، بيروت. لومړي چاپ 1419 هـ - 1998 م

8) الجواهر الحسان في تفسير القرآن د أبو زيد عبد الرحمن بن محمد بن مخلوف الثعالبي (875هـ) ليکنه، تحقيق: شيخ محمد علي معوض والشيخ عادل أحمد عبد الموجود، د چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي – بيروت. لومړي چاپ - 1418 هـ

9) جامع البيان عن تأويل آي القرآن د امام محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (310هـ)ليکنه، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، د چاپ ځای: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان. لومړي چاپ، 1422 هـ - 2001 م

10) صحيح البخاري للامام محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي د چاپ ځای: دار طوق النجاة، لومړي چاپ1422هـ

11) الكشف والبيان عن تفسير القرآن د شيخ أحمد بن محمد بن إبراهيم الثعلبي، أبو إسحاق (427هـ) ليکنه،تحقيق: شيخ أبي محمد بن عاشور، د چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي، بيروت – لبنان. لومړي چاپ 1422، هـ - 2002 م

12) تفسير القرآن العظيم د امام أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي البصري ثم الدمشقي (774هـ) تحقيق: سامي بن محمد سلام د چاپ ځای: دار طيبة للنشر والتوزيع، دويم چاپ 1420هـ - 1999 م

13) الدر المنثور د امام عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (911هـ) ليکنه، د چاپ ځای: دار الفكر - بيروت

14) إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم د امام أبو السعود العمادي محمد بن محمد بن مصطفى (982هـ) د چاپ ځای: دار إحياء التراث العربي - بيروت

15) لسان العرب، د محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (711هـ) ليکنه د چاپ ځای: دار صادر – بيروت.دريم چاپ - 1414 هـ. او تاج العروس من شرح جواهر القاموس، د محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني، أبوالزَّبيدي (1205هـ)ليکنه. د چاپ ځای: دار الهداية

16) مقالات الإسلاميين واختلاف المصلين د أبو الحسن علي بن إسماعيل بن أبي موسى الأشعري (324هـ)ليکنه. چاپ: دار فرانز شتايز، ألمانيا.دريم چاپ 1400 هـ - 1980 م.

17) الفرق بين الفرق وبيان الفرقة الناجية د أبو منصور عبد القاهر بن طاهر اسفراييني، (429هـ) ليکنه.د چاپ ځای: دار الآفاق الجديدة – بيروت دويم چاپ، 1977م.

18) الملل والنحل د أبو الفتح محمد بن عبد الكريم بن أبى بكر أحمد الشهرستاني (548هـ)ليکنه. د چاپ ځای: مؤسسة الحلبي.

19) التفسير والمفسرون د دکتور محمد السيد حسين الذهبي ليکنه، د چاپ ځای: مكتبة وهبة، القاهرة.

20) الكامل في اللغة والأدب د محمد بن يزيد المبرد، أبو العباس (285هـ)ليکنه. تحقيق:محمد أبو الفضل إبراهيم.د چاپ ځای:دار الفكر العربي – القاهرة دريم چاپ:1417 هـ - 1997 م

21) تلبيس ابليس، ابن الجوزي، المؤلف: جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (597هـ). د چاپ ځای: دار الفكر للطباعة والنشر، بيرزت، لبنان. لومړي چاپ، 1421هـ/ 2001م

22) جمهرة اللغة د أبو بكر محمد بن الحسن بن دريد الأزدي (321هـ) ليکنه، تحقيق: رمزي منير بعلبكي دچاپ ځای: دار العلم للملايين - بيروت،لومړي چاپ 1987م

23) تهذيب اللغة د محمد بن أحمد بن الأزهري الهروي، أبو منصور (370هـ)ليکنه، د محمد عوض مرعب تحقيق د چاپ ځای : دار إحياء التراث العربي بيروت، لومړي چاپ 2001م

24) الملل والنحل د أبو الفتح محمد بن عبد الكريم بن أبى بكر أحمد الشهرستاني (548هـ)ليکنه، د چاپ ځای: مؤسسة الحلبي.

25) تفسير القمي، د ابراهيم قمي ليکنه، چاپ ځای : موسسة الامام المهدی قم، لومړي چاي ۱۳۳۵ه ق
26) تفسير العياشي،د ابو النضر عياشی ليکنه، چاپ ځای: موسسة البعثه تهران، لومړي چاب ۱۳۲۱ه ق
27) تفسير الصافي د محسن کاشاني ليکنه، د چاپ ځای:دارالکتب الاسلامية ايران تهران، لومړي چاپ ۱۴۱۹ه ش
28) طبقات الشافعية الکبری د تاج الدين عبد الوهاب بن تقي الدين السبکي (771هـ) ليکنه،تحقيق: دکتور محمود محمد الطناحي اودکتور عبد الفتاح محمد الحلو د چاپ ځای: هجر للطباعة والنشر والتوزيع، دويم چاپ، 1413هـ
الفتاوی الکبری د ابن تيمية تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام بن عبد الله الدمشقي (728هـ)ليکنه. د چاپ ځای:دار الکتب العلمية، لومړی چاپ، 1408هـ - 1987م